مرکز مطالعات استراتیژیک و منطقوی

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۲۹۴** (از ۳ الی ۱۰ حمل ۱۳۹۸ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی، امنیتی، اقتصادی و اجتماعی هفته‌واری است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار و پالیسی‌ساز از آن استفاده نمایند.**

---

## آنچه در این شماره می‌خوانید:

مقدمه ........ ۲

**افغان سوله؛ د افغان حکومت، امریکا او سیمې د همغږۍ اړتیا**

افغان سوله او سيمه‌ييزې ګټې ........ ۴

په افغان سوله کې د سيمې د همکارۍ ارزښت ........ ۵

پایله ........ ۵

**آغاز سال تعلیمی ۱۳۹۸ و وضعیت معارف در افغانستان**

وضعیت کنونی معارف در کشور ........ ۸

تعهدات حکومت در عرصۀ معارف ........ ۹

مشکلات موجود در عرصۀ معارف ........ ۱۰

## مقدمه

په افغانستان کې د امریکا پوځي حضور د سیمې د هېوادونو اندېښنې له ځان سره لرلې دي او دا چې په اوس‌مهال کې څه ډول کېدای شي د سیمې هېوادونه په ریښتینې توګه د افغان سولې په تړاو د امریکا ـ طالبانو په روانو خبرو کې د بریا په پار همکاري وکړي، اړتیا ده چې په افغانستان کې د امریکایي پوځیانو د حضور او اوږدمهالي رول په اړه یو روښانه تصویر وړاندې شي، ترڅو په سیمه کې شته اندېښنې، له منځه ولاړې شي. له همدې کبله، د افغان سولې په تړاو په واشنګټن کې د روسیې، چین او اروپایي ټولنې له استازو سره د امریکایي چارواکو وروستۍ څلور اړخیزه ناسته، د امریکا ـ طالبانو د روانو خبرو د بریا لپاره یو مهم ګام و، چې کولی شي د دواړو لورو ترمنځ د باورجوړونې په برخه کې مثبت رول ولوبوي.

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز د اوونۍ تحلیل په لومړۍ برخه کې د افغان سولې په تړاو د امریکا، روسیې، چین او اروپایي ټولنې د استازو پر وروستۍ ناستې سربېره په افغان سوله کې د سیمې د هېوادونو د رول او د سیمې لپاره د یوه ارام افغانستان پر ګټو بحث شوی دی.

د اوونۍ تحلیل په دویمه برخه کې د ۱۳۹۸تعلیمي کال د پیل او په افغانستان کې د معارف د وضعیت په اړه بحث شوی دی. د افغانستان په سړو سیمو کې نوی تعلیمي کال داسې مهال پیل شو، چې لا هم د جګړو له امله د هېواد په مختلفو سیمو کې سلګونه ښوونځي تړلي دي. ولسمشر غني د تېر په شان سږ کال هم د تعلیمي کال د پیل په پراسمو کې د "غوره پوهه غوره راتلونکی" تر شعار لاندې د معارف د وضعیت د ښه کېدو لپاره یو ځل بیا تازه ژمنې وکړې؛ خو تېر ته په کتلو سره معلومه نه ده، چې دا ژمنې به څومره عملي شي؟

# افغان سوله؛ د افغان حکومت، امریکا او سیمې د همغږۍ اړتیا



څو ورځې وړاندې امریکایي چارواکو د روسیې، چین او اروپایي ټولنې له استازو سره د افغان سولې په تړاو دوه‌ورځنۍ خبرې اترې درلودې. د دغو خبرو په اړه زلمي خلیلزاد پر خپله ټوېټرپاڼه لیکلي، چې «موږ د افغانستان د خپلواکۍ درناوی کوو، د افغانانو لپاره سوله غواړو او د یوه داسې افغانستان غوښتونکي یو چې بیا دغه هېواد هېڅکله زموږ لپاره د ګواښ سرچینه نه وي.»

د امریکا د بهرنیو چارو وزارت هم د دغو خبرو په تړاو په یوه خپره کړې اعلامیه کې ویلي، چې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت چارواکو د (۲۰۱۹م کال د مارچ ۲۱ او ۲۲مه) په واشنګټن کې د افغانستان د سولې، نېکمرغۍ او امنیت په برخو کې د چین، روسیې او اروپایي ټولنې له چارواکو سره خبرې وکړې. په بیانیه کې ویل شوي، چې «دوی د افغانستان خپلواکۍ، استقلال او ځمکنۍ بشپړتیا ته درناوی لري او دغه هېواد به خپلې سیاسي، امنیتي او اقتصادي پرېکړې په خپله کوي».

په ورته وخت کې د افغانستان لپاره د روسيې ځانګړي استازي ضمير کابلوف له دغو دوه‌ورځنيو خبرو وروسته ويلي، چې له افغانستانه د بهرنيو ځواکونو له وتلو او اوربند وروسته به بيا دغه هېواد ته جګړه را ونه ګرځي.

د افغان سولې په پروسه کې د سيمې د هېوادونو ارزښت، د دغو هېوادونو ګټې او دا چې افغان سوله د امريکا، افغان حکومت او سيمې د هېوادونو همغږۍ ته څومره اړتيا لري، هغه موضوعات دي چې دلته مو پرې بحث کړی دی.

## افغان سوله او سيمه‌ييزې ګټې

د افغانستان موقعيت ته په کتلو سره د دغه هېواد سوله او ثبات د سيمې پر امنيت او ثبات اغېز لرونکی دی. له تېرو شاخوا څلورو لسيزو راهيسې رواني جګړې هم وښوده، چې يو ناآرام افغانستان د سيمې د ثبات په ګټه نه دی؛ له همدې کبله په اوس‌مهال کې تقريباً د سيمې ټول هېوادونه په رسمي توګه د افغانستان سوله او ثبات په خپله ګټه بولي.

که څه هم د سيمې د هر هېواد ګټې په افغانستان کې بېلابېلې دي او تر ډېره د افغانستان په قضيه کې له همدې امله ننګونې هم زياتې دي؛ خو بيا هم په ټوله کې له پورتنۍ خبرې سره، چې د افغانستان سوله او ثبات ده، په اوس مهال کې ټول موافق دي.

د بېلګې په توګه روسيه او چين دواړه غواړي په اوږده مهال او منځ‌مهال کې امريکايي سرتېري په افغانستان کې نه وي او له همدې امله د امريکا ـ طالبانو له خبرو هم ملاتړ کوي؛ خو له افغانستانه په چټکه توګه د بهرنيو ځواکونو وتل بيا هم د خپلو ګټو لپاره ګواښ ګڼي. ځکه دا به په افغانستان کې د واک تشه رامنځته کړي او د دې وېره شته، چې هېواد به د ۹۰مې لسيزې په څېر بيا د بحران پر لور بوځي.

په بل اړخ کې پاکستان د افغانستان او هند ترمنځ له اوسنيو ګرمو اړيکو خوښ نه دی؛ پاکستان غواړي چې دغه ګرمې اړيکې همداسې ګرمې پاتې نه شي او په افغانستان کې د هند اغېز راکم شي. له همدې کبله پاکستان په افغانستان کې د يوه داسې نظام هيله لري، چې دوی پرې نفوذ ولري.

په سيمه کې ايران هم د روسيې او چين په څېر په افغانستان کې د بهرنيو ځواکونو له حضوره انديښنې لري. دغه‌راز همدا درې واړه هېوادونه له دې هم انديښنه لري، چې شايد امريکا به د داعش تر شا لاس ولري. همدا لامل دی، چې د داعش د فعاليت له زياتوالي سره دوی له طالبانو سره اړيکو غځولو ته اړ شول، ترڅو له دې لارې پر امريکا فشار راوړي.

## په افغان سوله کې د سیمې د همکارۍ ارزښت

که څه هم د افغان سولې په تړاو د امریکا ـ طالبانو روانې خبرې په افغانستان کې د جګړې د پای ته رسېدو په برخه کې ورځ تر بلې هیله بښونکې کېږي؛ خو په ورته وخت کې بیا په دې پروسه کې د سیمې د هېوادونو رول هم له پامه نه شي غورځول کېدای. په افغانستان کې د روانې جګړې پېچلتیا او ښکېلو ډلو ته په کتلو سره داسې ښکاري، چې په دغه هېواد کې د سولې او ثبات لپاره د سیمې د ځواکمنو هېوادونو همکارۍ، پوره ارزښت لري او یو اړین ګام دی چې پورته کول یې د افغان سولې له پروسې سره مرسته کولای شي.

د افغان سولې په تړاو له طالبانو سره د امریکا د مخامخ خبرو پیل او له تېرو څو میاشتو راهیسې د زلمي خلیلزاد سفرونه ښیي، چې امریکا هم د افغان سولې په برخه کې د سیمه‌ییزو هېوادونو پر ارزښت قایله ده. دغه‌راز امریکا هڅه کوي، چې د افغان سولې په تړاو د سیمې د هېوادونو اندېښنې کمې کړي او په دې برخه کې یې ملاتړ ترلاسه کړي.

د دې ترڅنګ، د امریکا او طالبانو ترمنځ د روانو مخامخ خبرو اترو په تړاو هم انګېرنې دا دي، چې د دواړو لوریو ترمنځ که هوکړه کېدونکې وي، د سیمې ځینې ځواکمن هېوادونه به د دې هوکړې د تطبیق تضمین کوونکو په توګه ډګر ته رامخته کېږي. په دې تړاو، د چین، روسیې او اروپایي ټولنې له استازو سره د خلیلزاد له خبرو وروسته، د افغانستان لپاره د روسیې ځانګړي استازي ضمیر کابلوف خبریالانو ته وویل چې، طالبان هڅه کوي باوري شي، چې روسیه او یو شمېر نور هېوادونه د دوی او امریکا ترمنځ د احتمالي هوکړو تضمین کوونکي دي.

پر دې ټولو سربېره، د افغان سولې په تړاو په روانو خبرو کې افغان طالبان هم د تضمین کوونکي په توګه د سیمې هېوادونو ته اړتیا لري، ترڅو نړیوالو ته د دوی له لوري هم د تضمین کوونکي رول ادا کړي.

## پایله

په افغانستان کې د سولې لپاره تر ټولو ننګوونکې دا ده، چې څرنګه د افغان حکومت-امریکا-سیمه‌ییزو هېوادونو او طالبانو ګټې په یوه چوکاټ کې په نظر کې ونیول شي، ترڅو دا پروسه بریالۍ شي. له همدې امله په دې تړاو د سیمې هېوادونو ته د زلمي خلیلزاد مسلسل سفرونه، په افغانستان کې له حکومتي او سیاسي چارواکو سره لیدنې او له طالبانو سره ناستې په همدې دلیل دي.

د افغان سولې په تړاو د روسيې، چين او اروپايي ټولنې له استازو سره د خليلزاد وروستۍ خبرې اترې هم د امريکا ـ طالبانو د خبرو اترو د بريا لپاره مهم گام و، دا هڅې د دواړو لورو ترمنځ د شته بې‌باوريو د ختمولو په تړاو او يوې نوې مرحلې ته د سولې د خبرو رسيدلو په پار دي.

داسې برېښي، چې د سيمې هېوادونو سره په همغږۍ به په نږدې راتلونکي کې د امريکا او طالبانو ترمنځ په روانو خبرو کې له افغانستانه د بهرنيو سرتېرو د ايستلو، له سخت‌دريځو ډلو سره د طالبانو پرېکون او دا چې افغان خاوره به د امريکا او نړيوالو پرضد نه کارول کېږي، يوه هوکړه وشي؛ خو بين الافغاني خبرې (چې د طالبانو او افغان سياسي ډلو ترمنځ نه وي، بلکې د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ وي) او اوربند اعلانول به تر ټولو لويه ننگونه وي او ښايي وخت به وغواړي.

په ټوله کې د افغان سولې په تړاو د طالبانو او افغان حکومت ستراتېژۍ ډېر توپير لري، چې همدې توپير د افغان سولې په تړاو اندېښنې زياتې کړې دي. طالبان غواړي لومړۍ له امريکا سره د سرتېرو د ايستلو پر موضوع او دا چې افغان خاوره به د امريکا او نړيوالو پرضد نه کارول کېږي، خبرې پای ته ورسوي او يوه هوکړه وکړي. بين‌الافغاني خبرې د هېواد له ټولو سياسي، جهادي او مدني ډلو سره غواړي؛ خو پرته له افغان حکومت څخه، دغه راز اوربند هم هغه جنجالي فکټور دی چې ښايي د بين الافغاني خبرو اترو تر هوکړې وروسته يې په اړه خبرې وشي.

په بل اړخ کې افغان حکومت بيا د امريکا او طالبانو ترمنځ له مخامخ خبرو ناخوښ دی او له همدې امله په وروستيو کې د کابل ـ واشنگټن ترمنځ په اړيکو کې يو ډول بې‌باوري را ټوکېدلې ده. د افغان سولې په تړاو که چېرې افغان حکومت ونه توانېږي، چې د سولې مشري ترلاسه کړي، ښايي ولسمشر غني د سولې له دغې پروسې سره پوره پرېکون اعلان کړي، چې هغه وخت به يې پايلې د هېواد او ملت په خير نه وي. پای

# آغاز سال تعلیمی ۱۳۹۸ و وضعیت معارف در افغانستان



سال تعلیمی ۱۳۹۸ هـ ش با به صدا در آمدن زنگ مکتب توسط رئیس جمهور اشرف غنی و با شعار «معارف برتر-آیندهٔ بهتر» در حالی آغاز گردید که وعده‌های حکومت در سال‌های گذشته برای بهبود این عرصه عملی نشده و سکتور معارف افغانستان هنوز هم با مشکلات و چالش‌های جدی روبه‌رو است.

رئیس جمهور در مراسم نواختن زنگ مکتب در آغاز سال تعلیمی ۱۳۹۷ وعده سپرده بود که تا دو سال آینده برای ٦۰۰۰ مکتب تعمیرهای جدید اعمار خواهد شد و ۲۰۰ میلیون دالر بودجه برای ساخت تعمیرهای این مکاتب نیز تخصیص داده شده است. اما در مراسم آغاز سال ۱۳۹۸ هـ ش گفت: «فراهم کردن بودجه و امکانات برای شش هزار مکتب آسان نیست، ولی گام‌های اساسی برداشته شده و اکنون مرحلهٔ تحقق کامل آن فرا رسیده است».

رئیس جمهور غنی چالش‌های غیرمترقبه در بخش هماهنگی را دلیل عملی نشدن وعده‌هایش در عرصهٔ معارف عنوان کرد و گفت: «کار اعمار ۱۲۰۰ مکتب جریان دارد و بودجه برای ساخت ۲۷۰۰ مکتب در سال جاری نیز تهیه و اختصاص داده خواهد شد».

وضعیت کنونی معارف در افغانستان، تعهدات دولت در این عرصه و مشکلات و چالش‌های موجود در سکتور معارف، موضوعاتی اند که در این تحلیل مورد بحث قرار گرفته است.

## وضعیت کنونی معارف در کشور

نگاهی به وضعیت معارف در ۱۷ سال گذشته نشان می‌دهد که پیشرفت در عرصهٔ معارف در این مدت بیشتر روی کمیت می‌چرخید و به دلیل عدم توجه به کیفیت آن، در حال حاضر بزرگترین مشکل در این عرصه پایین بودن کیفیت آن به شمار می‌رود و مشکلات گوناگون کیفیت معارف را متأثر ساخته است.

از سوی دیگر، نظر به گزارش اخیر سیگار که در ۳۰ ماه جنوری ۲۰۱۹ نشر شد، دولت افغانستان در حال حاضر تنها بر ۵۵ درصد خاک کشور حاکمیت دارد و مناطق باقی‌مانده تحت کنترول مخالفین مسلح دولت می‌باشد. گروه طالبان هرچند مکاتب دخترانه را در بیشتر این ساحات مسدود ساخته اند، اما در کل به فعالیت ادارات تعلیمی در مناطق تحت کنترول شان اجازه داده است و جریان تعلیم و تربیه در آن مناطق را نظارت می‌نمایند. به همین دلیل، سیطرهٔ همزمان حکومت و طالبان بر مکاتب و ادارات تعلیمی در مناطق تحت کنترول طالبان نیز مشکلات زیادی را به بار آورده است و گاه‌گاهی تصامیم متضاد حکومت و طالبان جریان تعلیم و تعلم در این مناطق را مختل ساخته است.

در کنار این، بر اساس ارقام وزارت معارف افغانستان در حال حاضر حدود ۳.۷ میلیون کودک واجد شرایط مکتب در افغانستان، از رفتن به مکتب محروم اند. علاوه بر این، سکتور معارف در افغانستان با مشکلات و چالش‌های زیادی مواجه است که در رأس آن جنگ، نا امنی و فساد اداری قرار دارند. کمبود معلمین مسلکی و کارمندان متخصص، نبود ساختمان‌ها، کمبود کتاب‌ها و سایر لوازم درسی، معیاری نبودن امتحانات، مکاتب مسدود و خیالی، مشکلات نصاب درسی، ضعف اداره و غیره، برخی از مشکلات عرصهٔ معارف در افغانستان به شمار می‌رود.

## تعهدات حکومت در عرصهٔ معارف

با ایجاد حکومت وحدت ملی رئیس جمهور غنی در نخستین روزهای کار خود ابراز داشت که وضعیت فعلی معارف کشور برایش قابل قبول نیست. او تعهد کرد که در بلرهٔ بلند بردن کیفیت معارف، غیرسیاسی نمودن این عرصه، بهبود وضعیت معلمین و نیز مشارکت زنان در زمینه‌های استراتیژیک معارف کار خواهد کرد. اما با گذشت حدود یک‌ونیم سال، در نخستین روز سال تعلیمی ۱۳۹۵ هـ ش از همه معلمین برای عمل نکردن بر تعهدات خود معذرت‌خواهی کرد و بر عملی نمودن تعهدات خود تاکید دوباره نمود.

پس از گذشت یک سال و آغاز سال ۱۳۹٦هـ ش معارف افغانستان در کنار مشکلات سابق چون مشکلات ناشی از بی‌امنیتی، فساد اداری، کمبود لوازم و امکانات، نبود معلمین مسلکی و غیره با مشکلات جدیدی نیز مواجه شده بود و به خصوص در مناطق تحت کنترول مخالفین مسلح دولت این مشکلات بیشتر رونما گردید و تعداد مکاتب مسدود در مناطق ناامن نیز روبه افزایش بود. کمیسیون حقوق بشر افغانستان در آغاز سال ۱۳۹٦ اعلام کرد که در ولایت ارزگان از جمله ۳۱۸ مکتب در شهر و ولسوالی‌های این ولایت، تنها ۷ مکتب آن فعال است و باقی ۳۱۱ مکتب به اثر بی‌امنیتی مسدود می‌باشد. غزنی، کندز، زابل، پکتیا، هلمند، نیمروز، فراه، بادغیس و ننگرهار نیز ولایاتی بودند که به گفتهٔ مسؤولان وزارت معارف، دروازه‌های بیشتر از یک هزار مکتب در آن‌ها به روی شاگردان مسدود بوده است.

مکاتب فعال نیز با مشکلات جدی چون نبود استادان مسلکی، لوازم درسی، ساختمان مکاتب و موجودیت فساد و غیره روبه‌رو بوده است. در بسیاری موارد گزارش داده شده که عالمان دینی مضامین علوم ساینسی را تدریس می‌کنند و شاگردان از لوازم درسی مانند کتاب، کتابخانه، لابراتوار و غیره محروم اند.

سرور دانش معاون دوم رئیس جمهور در مراسم آغاز سال تعلیمی ۱۳۹٦ هـ ش گفت که با وجود سرازیر شدن میلیاردها دالر به افغانستان، هنوز هم حدود ۵۰ درصد از مکاتب ساختمان‌های معیاری ندارند که به گفتهٔ او، در این زمان و شرایط برای افغانستان جای شرم است.

پس از گذشت دو سال از عمر حکومت وحدت ملی، رئیس جمهور غنی در مراسم نواختن زنگ مکتب، سال ۱۳۹۷ هـ ش را سال حمایت از معارف کشور اعلام کرد و به تمام وزارتخانه‌ها هدایت داد که با معارف همکاری همه‌جانبه نمایند و معارف را در رأس برنامه‌های خویش قرار دهند. وی همچنان تأکید نمود که مکاتب مرکز و ولایات کشور را با انترنت وصل خواهد ساخت و تعهدات که پیش از این در خصوص معاشات معلمین سپرده بود، تا ۲۷ ماه اسد سال ۱۳۹۷ بر عملی شدن آن نیز تأکید دوباره نمود.

وعده‌های رئیس جمهور در سال ۱۳۹۷ نیز به گونۀ کامل عملی نشد و در آغاز سال تعلیمی ۱۳۹۸ یک بار دیگر به عملی شدن این وعده‌ها تعهد سپرد. به گونۀ مثال، رئیس جمهور غنی در سال ۱۳۹۴ گفته بود که مشکل مسکن برای معلمان را در ظرف شش ماه حل خواهد کرد و اکنون سه سال بعد نیز تاکید کرد که تا سه ماه آینده برای حل مشکل مسکن معلمان تصمیم نهایی خواهد گرفت و بررسی معاشات معلمین را نیز در برنامه کار خود دارد.

در کنار این، آموزش ۱۰۰ هزار معلم تا مقطع لسانس و ۵۷ هزار معلم تا سویۀ فراغت صنف چهاردهم در پنج سال آینده، استخدام ۱۱ هزار معلم جدید، بهبود کیفیت دروس در مکاتب، توزیع و فراهم سازی کتاب‌های درسی برای تمام شاگردان و تجهیز نزدیک به ۱۳۰۰ مکتب و وصل کردن آنها به فایبر نوری و امکانات اینترنت، پایان دادن به خشونت در مکاتب، نیز از جمله وعده‌هایی بود که در مراسم آغاز سال ۱۳۹۸ هـ ش رئیس جمهور به عملی شدن آن‌ها وعده سپرد.

ولی میرویس بلخی وزیر معارف افغانستان در کنار برخی مشکلات در عرصۀ معارف از دست‌آوردهایی در سال گذشته نیز سخن گفت. او از غیرسیاسی ساختن معارف افغانستان، آغاز بایومتریک ۲۷۰ هزار کارمند معارف افغانستان، آغاز پروسۀ جذب ۳.۷ ملیون کودک بازمانده از تعلیم، و سوادآموزی ده‌ها هزار تن، به عنوان دست‌آوردهای وزارت معارف در سال گذشته یاد کرد و تاکید ورزید که در سال جدید تعلیمی حدود یک میلیون دانش آموز تازه نیز جذب مکاتب کشور خواهند شد.

## مشکلات موجود در عرصۀ معارف

با وجود وعده‌های مکرر مقام‌های حکومتی در خصوص بهبود عرصۀ معارف، هنوز هم مشکلات و چالش‌های زیادی این عرصۀ حیاتی را تهدید می‌کند که می‌توان به برخی آن‌ها در چند نکتۀ ذیل اشاره کرد:

**ناامنی‌ها:** جنگ جاری و ناامنی در کشور مانند هر عرصۀ دیگر، چالش بزرگی در برابر معارف نیز شمرده می‌شود. بر اساس گزارش اخیر یوناما، سال ۲۰۱۸م خونین‌ترین سال برای مردم افغانستان بود که در آن بیش از ۱۰ هزار فرد ملکی کشته و زخمی شدند. بر اساس معلومات وزارت معارف افغانستان، در حال حاضر حدود ۴۰۰ مکتب در تمام افغانستان به دلیل ناامنی‌ها مسدود اند.

**فساد اداری:** موجودیت فساد اداری چالش دیگری در برابر معارف افغانستان است. در آستانه آغاز سال تعلیمی ۱۳۹۸ هـ ش، کمیته مشترک مستقل ارزیابی و نظارت مبارزه با فساد اداری اعلام کرد که در بخش معارف هنوز هم نواقص زیادی وجود دارد و اگر برای اصلاح آن اقدام نشود تأثیرات ناگواری بر نظام معارف در کشور خواهد داشت. این کمیته در عقرب سال ۱۳۹٦ با نشر گزارشی هشدار داده بود که موجودیت فساد گسترده در وزارت معارف نگران‌کننده است. کمیته در گزارش خویش نگاشته بود که فساد در پروسهٔ استخدام معلمین، فروش کتاب‌های درسی در بازار، مشکلات توزیع معاشات معلمین در ولایات کشور و سایر موارد روی وضعیت معارف در کشور تاثیرات ناگواری داشته است. نبود ساختمان‌های مکاتب نیز با فساد اداری گره خورده است. به دلیل موجودیت فساد گسترده در وزارت معارف، در بسیاری موارد مکاتب خیالی ساخته شده و پول آن حیف و میل شده است.

**کیفیت پایین:** پس از امنیت و فساد اداری، کیفیت و سطح پایین تعلیمی در معارف افغانستان، یکی از چالش‌های مهم به شمار می‌رود. بر اساس آمار وزارت معارف افغانستان تنها ۲۷ درصد از ۱۷۰۰۰۰ تن معلم، کمترین شرایط یک معلم مسلکی یعنی فراغت از صنف چهارده را دارا می‌باشند و این وضعیت در کنار عوامل دیگر، مستقیما بر کیفیت و سطح تعلیم وتعلم در کشور تاثیر داشته است. در کنار این، بربنیاد معلومات وزارت معارف، در حال حاضر ۹۰ ملیون جلد کتاب و بیش از ۷۰ هزار معلم نیز کمبود است.

**ضعف در مدیریت:** مشکل دیگری که در برابر معارف افغانستان وجود دارد، پایین بودن توانمندی اجرائیوی سکتور معارف در مرکز و ولایات می‌باشد. سکتور معارف به دلیل کمبود ظرفیت‌های کادری و کاری متخصص و گماشتن افراد غیرمسلکی به دلیل فساد اداری موجود، با مشکل ضعف مدیریت و نظارت ضعیف در مرکز و بیشتر مناطق کشور مواجه است. بنابراین، سکتور معارف در قدم نخست نیازمند اصلاحات در سیستم نظام مدیریتی و در قدم دوم نیازمند ایجاد یک استراتیژی ملی، منظم و همه‌جانبه بربنیاد تحقیقات معیاری است که جواب‌گوی حل مشکلات موجود در نهادهای تعلیمی افغانستان باشد. پایان

**ارتباط با ما:**

**ایمیل:** info@csrskabul.com - csrskabul@gmail.com

**وب سایت:** www.csrskabul.com -- www.csrskabul.net

**شمارهٔ تماس دفتر:** (+93) 202564049 - (+93) 784089590

**محقق و مسؤول تحلیل هفته:** ضیاءالاسلام شیرانی (+93) 764747548 zi.shirani@gmail.com

**محقق و مسؤول نشر تحلیل هفته:** احمدشاه راشد (+93) 784249421 ahmadshahr786@gmail.com